# رمزونه

له زړه دی خبر نه یم خو په سترګو دی رمزونه دی
ګرځی می په ذهن کی چی ما سره دی مینه دی
زه هم جرءت نه لرم چی راز می دزړه ووایم
نه پوهیږم ستا په ځیر کتو کی څه رازونه دی
مینه د اشاری په ژبه زړونو ته لار باسی
دا د دوه مینو د یاری مخکی شرطونه دی
مینه سرحد نه پیژنی زړونه چی بی واکه شی
مینه کی ساتل عهد وپیمان اصیل شرطونه دی
مینه کی د رنځ او کړاونو سره مخه وی
ګوره «مل» دمینی لار کی پروت ډیر کړاونه دی
*****

پوهندوی دوکتور سیدحسام «مل»
کریفلد جرمنی ۲۰۱۶-۱-۲۲